# د تاوتریخوالی ناوړه پایلې

اصلاح نهایی گردید: فولدرمضامین چاپ شده برج جوزاسال۱۳۹۵

لیکوال: څېړنوال نصیراحمد"نوربخش"

پربشځو د تاوتریخوالي ناوړه پایلی په ټولنه کې د بیلابیلو زړه بکنونکو پیښو لامل ګرځي، چې په ترځ کې یې کورنی شخړی، د ښځې اوخاوند ترمنځ بیلتون، له کورڅخه تېښته، د خپل عزت خرڅول (زنا)، ځان وژنی او ځان سوځونی منځ ته راځي، سربېره پردی کورنی نظام چې د ټولنی اساسی بنسټ دي ړنګیږی او ماشومان چې د انساني نړی راتلونکی تضمینوی د تاوتریخوالي په فضاء کې نیم ګړی روزل کیږی، د بیلګې په توګه یوازی په ۱۳۸۶ لمریز کال کې پرښځو د تاوتریخوالي رسمی آمار ښیي چې (۱۰۱۱) وقایع ثبت شوی،(۱) پداسی حال کې چې و اقعی آمار شاید په مراتبو لدی څخه زیات وی، ځکه چې د مختلفو دلایلو پراساس زیاتره پرښځو تاوتریخوالي پټ پاتی کیږی او رسمی مراجع پری نه خبریږی، د تاتریخوالی ځینی ناوړه پایلی په راتلونکې توګه تراجمالی څیړنی لاندی نیسو ترڅو ددی ستر بشری ناوړین څخه د خلاصون لیاری د اسلامی شریعت په رڼاکې ترلاسه کړو او د انساني فطرت مطابق په ډاډ منه فضاء کې کورنی ژوند ته مخه کړو.

۱- **جګړه**:

جګړه چې د انسان لپاره نه ښایي او د بشری کرامت سپکاوی ده د تاوتریخوالي له کبله منځ ته راځي، مداوم تاوتریخوالي ولو که لفظی هم وی د وخت په تیریدو سره او د عکس العملونو په ترځ کې په خونړی جګړی بدلیږی، د ښځې اوخاوند ترمنځ خوګ او له مینی ډک تراو په نه خوښونکې ژوند باندی بدلیږی، کله دا جګړه د عاقدینو د خصوصی ژوند له حریم څخه عبورکوی، د دوکورنیو او قومونو ترمنځ (ښځې او میړه) په جګړی بدلیږی، چې دتل لپاره په ګډ ژوند کې یوه نا آرامه فضاء را مینځته کوی، د ماشومانو په روزنی ناوړه اثر پریږدی، له بلی خوا د جګړی په نتیجه کې کله ناکله د بدن غړی تلف کیږی، پرېټوکو اثر پریږی، معیوبیت او معلولیت رامنځ ته کوی، کله هم بشر د انسانیت له مرز څخه عبورکوی او د ځناورو درجې ته ورکوزیږی، هغه تاوتریخوالي چې د جګړی په ترځ کې رامنځ ته کیږی او د معیوبیت لامل ګرځي په اسلامی شریعت کې د هغه د فاعل لپاره حد ټاکل شوی، د اسلام له نظره ددی ډول تاوتریخوالي فاعل په باالمثله سزاء باندی محکوم ده، پدی هکله قرآن فرمایي: ﴿أَنَّ ٱلنَّفۡسَ بِٱلنَّفۡسِ وَٱلۡعَيۡنَ بِٱلۡعَيۡنِ وَٱلۡأَنفَ بِٱلۡأَنفِ وَٱلۡأُذُنَ بِٱلۡأُذُنِ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ وَٱلۡجُرُوحَ قِصَاصٞ﴾ المائدة: ٤٥

**ترجمه**: نفس د نفس په بدل کې، سترګه د سترګې په بدل کې، پزه د پوزې په بدل کې، غوږ د غوږ په بدل کې، غاښ د غاښ په بدل کې او زخمونه سره انډول دی. همداراز د افغانستان د جزاء قانون لمړی ماده د پورتنی حکم په تایید څرګندوی چې «داقانون تعزیری جرمونه او جزا ګانی تنظیموی، د حدودو، قصاص اودیت د جرمونو ارتکاب کوونکی د اسلامی شریعت د حنفی فقهی د حکمونو سره سم مجازات کیږی».(۲) هغه جګړه چې د بدن د غړو په ماتیدو، زخمی کیدو، شنډیدو او یا معلول کیدو باندی تمامه شی، د افغانستان د جزاء په قانون کې د ۴۰۷ مادی پراساس ورته داډول جزاء ټاکل شوی، «که یو شخص عمدأَ بل شخص په داسی ډول زخمی یاووهی چې د پری کیدو یا نقصان یا ماتیدو یا د بدن د اعضاوو څخه د یوی عضوی د کاره ولیدو یا په دوام لرونکی معلولیت منجر یا د هغه د یوی حواس د فقدان موجب وګرځی د خساری په جبران علاوه په متوسط حبس چې ددری کلونو څخه کم نه وی محکومیږی».(۳) بناء د تاوتریخوالي له ناوړه پیښو څخه یو هم د عاقدینو ترمنځ جګړه ده چې د کورنی نظام بنسټ نړوی او په نومورو نابېره پیښو تمامیږی چې د اسلامی شریعت له نظره غیرمشروع کار ګڼل شوی.

۲- **طلاق او تفریق**:

---

۱ - بانګ معلوماتي محو خشونت علیه زنان، (۲) مخ.

۲- د جزاء قانون، لومړی ټوک، لمړی ماده، (۱) مخ.

۳ - د جزاء قانون، لومړی ټوک، 407 ماده، (۴۰۷) مخ.

د تاوتریخوالي له ناوړه پایلو څخه د ښځې اومېړه ترمنځ د طلاق او تفریق په توګه بیلتون رامنځ ته کیږي، سره لدی چې طلاق او تفریق د ټاکلو مناسبتونو په ترڅ کې د تاوتریخوالي نه د خلاصون په موخه د اسلامی شریعت په رڼاکې ورسټی د حل لیار ده، اما طلاق په اسلام کې یوازی د ستونزو د هواریدو لپاره په مقید ډول جایز ګڼل شوی، له همدی کبله رسول اکرم(ص) له طلاق نه د بدو حلالو په نامه سره یادونه کړی ده لکه څرنګه چې فرمایي: «أَبْغَضُ الْحَلاَلِ إِلَى اللَّهِ الطَّلاَقُ».(۱) ترجمه: بدترین حلال د خدای(ج) په نزد طلاق ده. ځکه چې د طلاق په ترڅ کې د ماشومانو په تیره بیا زمونږپه ټولنه کې د ښځې برخلیک له جدی ګواښ سره مخ کیږي او د ژوند پاتی برخه به په ټولنه کې د مطلقی په توګه په حقارت سره بی سرپرسته تیروی او خاوند هم د روحی، اقتصادی او کلتوری فشارونو له کبله چې د طلاق په ترڅ کې منځ ته راغلی تهدیږي.

همدارازتفریق چې دعیب، ضرر، عدم انفاق او غیابت په ترڅ کې رامنځ ته کیږي،(۲) په مستقیم اوغیرمستقیم ډول د تاوتریخوالي له عواملو څخه ګڼل کیږي چې د ښځې او خاوند ترمنځ بیلتون راوړی او ټول هغه ناوړه پایلی چې د طلاق په پای کې ښځو ماشومانو او خاوند ته متوجه کیږي د تفریق له کبله هم منځ ته راځي، بناء طلاق او تفریق پرښځو د تاوتریخوالي له ناوړه پایلو څخه ګڼل کیږي چې منفی اغیزی یې پرعاقدینو او ماشومانو تباه کونکی اثرپریږدی.

۳- **له کور څخه تیښته**:

د میړه یا د پلار له کورڅخه د ښځو تېښته (فرار) د تاوتریخوالي له ناوړه پایلو څخه ګڼل کیږي، په تیره بیا زمونږد ټولنې په شان په هغو ټولنوکې چې ښځې عدلی او قضایې مراجعوته لاس رسی نلری او د ښځو مشروع شکایت هم نه اوریدل کیږي، کورنی او بهرنی چاری په مطلقه توګه د نارینه وو په واک کې دی، د تاوتریخوالي د شدت په نتیجه کې ښځې د نجات په موخه پرته لدی چې په پایلو باندی یې عمیق سوچ کړی وی، له کور څخه دعدالت په لور تېښتی ته مخه کوی، زیاتره داسی پیښې په ټولنه کې ډیری ناوړه پایلی لری، له یوی خوا ښځه د نا اهله کسانو لاسته ورځي چې د هغی په عزت باندی لوبی کوی او له بلی خوا زمونږپه کلچر کې دا ډول پیښې د کورنی ټولنیز ارزښت له تباهی سره مخ کوی چې د فراری ښځې د مرګ او ژوند خبره پری ترلی ده. د ۱۳۸۶ لمریز کال په اوږدوکې ثبت شوی رسمی آمار ښيي چې ۴۹ تنه ښځې د کورنی تاوتریخوالي او شخړو له کبله له کور څخه تېښتې ته اړشوی،(۳) پداسی حال کې چې ښځې د تاوتریخوالي په نتیجه کې د تېښتی حالت ته رسول اوله کور څخه یې زړه توری کول، د غوره انساني او اسلامی اصولو سره ښکاره مخالفت دي.

۴- **اعتیاد او ناوړه عملونه**:

د کورنی تاوتریخوالي له کبله ښځې د روحی او جسمی آرامتیا پخاطر د مخدره توکو استعمال ته مخه کوی او ددی هدف د ترلاسه کولو لپاره هرډول نشه یې توکې لکه: الکول، هیرویین، تریاک، چرس، سګرت اونصوار استعمالوی ترڅو د ځو شیبو لپاره خپله آرامتیا وساتی د وخت په تیریدو سره نوموړی عادت په اعتیاد بدلیږي، پدی صورت کې د مخدره توکو د لاسته راوړلو پخاطر د هرراز ناوړه عملونو او بدلمنی امکان شته.

له بلی خوا کله هم اعتیاد په زور سره په ښځې باندی تحمیلیږي په تیره بیا په هغه صورت کې چې میړه یې معتاد وی، یاهم د عادت په ډول له خاوند څخه ښځې او اولادونو ته سر ایت کوی، د۱۳۸۶ لمریزکال ثبت شوی رسمی آمارښيي چې له ۴۶۲ څخه زیاتی ښځې د کورنی تاوتریخوالي له کبله په اجباری توګه معتادی شوی او د بیلابیلو کورنیو ستونزو له امله په اعتیاد اخته شوی.(۴) په داسی حال کې چې د اسلام له نظره هرنیشه کونکې شی حرام ده، پدی هکله رسول اکرم(ص) فرمایي: «كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ».(۵) ترجمه: هرنیشه کونکی حرام ده.

---

۱ - سنن ابن ماجه، باب الطلاق، رقم الحديث (۲۰۹۶).
۲ - قانون مدنی افغانستان، (۲۷-۲۴) مخونه.
۳ - http://www.paymanemeli.com
٤ - http://www.aatash.org/spip.php
٥ - صحيح البخاری، باب بعث أبي موسي ومعاذ، رقم الحديث (۴۳۴۴).

په اسلامی شریعت کې مسلمانان د نیشه یي توکو له استعمال څخه منع شوی، بناء دا ډېره ستره ګناه ده چې د تاوتریخوالي له کبله مسلمان وګړی د نشه یي توکو استعمال ته مخه کوی او زمونږد ټولنې په شان په اسلامی ټولنه کې چې د مرحمت ځاله ده، اعتیاد نیغ په نیغه د تاوتریخوالي له عواملو څخه ګڼل کیږی.

۵- **ځان وژنه او بل وژنه**

د تاوتریخوالي ورستی پړاو په ځان وژنو ځان سوځونو او بل وژنو باندی تمامیږی، په تیره بیا په هغو ټولنو کې چې پرښځو تاوتریخوالي په مستمرډول ادامه پیداکړی، د جګړی، طلاق، تفریق، له کورڅخه تېښته، اعتیاد او ناوړه عملونو څخه وروسته د نهایت مظلومیت په ترڅ کې د تاوتریخوالي له ناورین څخه د خلاصون په موخه د ښځو نهایي توان ځان وژنه اوځان سوځونه ده.

د روانی ځیرنو پایلی دا په ډاګه کوی چې ځان سوځونه د نهایت تنفر او انزجار په ترڅ کې منځ ته راځي، سره لدی چې ځان وژنه جواز نلری او په اسلامی شریعت کې د صریحو نصوصو په استناد ترینه منع شوی﴿وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾ النساء: ۲۹

**ترجمه**: اوځانونه مومه وژنی بې شکه الله پاک پرتاسې ډېر مهربان دی. امام رازی د نوموړی آیت په تفسیر کې لیکی چې له قتل نه مراد ځان وژنه او د ځان وژنې لپاره اسباب بر ابرول لکه قتل ردت او داسی نورو څخه عبارت ده، همداراز رسول اکرمﷺ فرمايي: «كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ رَجُلٌ بِهِ جُرْحٌ ، فَجَزِعَ فَأَخَذَ سِكِّينًا فَحَزَّ بِهَا يَدَهُ ، فَمَا رَقَأَ الدَّمُ حَتَّى مَاتَ ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى بَادَرَنِي عَبْدِي بِنَفْسِهِ ، حَرَّمْتُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ».()

**ترجمه**: وه یوسړی په مخکی (امتونوکې) پدی باندی زخمونه ول، نو فریاد یې کاوه، پس چاړه یې را وا خیستله او لاس یې پری غوڅ کړ، ترهغه وخته پوری وینی تری بهیدی ترڅو چې مړشو، خدای ﷻ ویلی دی چاچې عجله (د قتل) وکړه په خپل نفس باندی، جنت می پری حرام کړی.

اما په خواشینی سره باید وو ایم چې د۱۳۸۶ لمریزکال ثبت شوی رسمی سروی ګانی په ډاګه کوی چې ۱۲۴ تنو ښځو د تاوتریخوالي د ناوړه پایلو په ترڅ کې خپل ژوند قربانی کړی،() په داډول ځان وژنو اوځان سوځونو کې اصلی لامل د هغو کسانو کړنه ده چې په نورو باندی د ظلم په ترڅ کې ځان وژنه او ځان سوځونه تحمیلوی او په غیرمستقیم ډول د نوموړو مړینو قاتلان دی، دا هغه سترظلم او تیری. ده چې خدای ﷻ ترینه بیزاره ده ﴿وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ آل عمران: ۵۷

**ترجمه**: الله پاک تیری کونکي نه خوښه وی. په دوهم پړاو کې خدای ﷻ ظالمان د خپل هدایت وړنګی ﴿وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ آل عمران: ۸٦

**ترجمه**: الله پاک د ظالمانو ډلې ته هدایت نکوی. په دریم پړاو کې خدای ﷻ په ظالمانو باندی لعنت ویلی ﴿أَن لَّعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ الأعراف: ٤٤

**ترجمه**: (دالله لعنت دی پرتیری کونکو وی). په څلورم پړاو کې خدای ﷻ د ظالمانو د هلاکت خبرداری ورکړی ﴿لَنُهْلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ إبراهیم: ۱۳

**ترجمه**: خامه خابه ظالمان هلاک کړو. په پنځم پړاو کې خدای ﷻ ظالمان په درد ناکه عذاب ویره ولی ﴿إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ إبراهیم: ۲۲

**ترجمه**: بی شکه د ظالمانو لپاره درد ناک عذاب ده.

---

۱ - صحیح البخاری، باب ماذکرعن بنی اسرایبل، رقم الحدیث (۳۴۶۳).
۲ - http://www.paymanemeli.com/modules.php

بناءً د تاوتریخوالي په چوکاټ کې هغه تیری چې د نورو ژوند تهدیدوی، د پورتنیو دلایلو پراساس غیرمشروع ګڼل شوی او ظلم د تاوتریخوالي له هغو ناوړه پایلو څخه شمیرل کیږی چې د اسلامی شریعت له نظره ناروا کار ګڼل شوی او خدای ﷻ مسلمان وګړی د قرآن په تعبیر ﴿وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾ التحریم: ۱۱

**ترجمه**: اوله ظالم قوم نه می وژغوره. له داډول ظلم څخه لری ساتی.

**د قرآن په رڼاکې د تاوتریخوالی د لمنځه وړلو د حل لیارې**:

کورنی دهرې ټولنې بنسټ او اساس جوړوي، ټولنه ده چې دتاریخ په څپوکې یې تل ترتله تمدونونه، نظامونه اونوښتونه رامنځ ته کړي دي، دځیرنو پراساس دکورنی پوره انځور کټ مټ دټولنې او نظامونو په څیره کې له ورایه دلیدو وړدی، بناپردې سالمه کورنی نیکمرغه ټولنه رامنځ ته کوي او له تاوتریخوالي ډکه کورنی دټولنې دتباهي لامل ګرځي، له همدې کبله کورنی داسلامي شریعت او په ځانګړې توګه دقرآن کریم او اروا پوهنې تجربې علم له لید لوري څخه خاصه دپام وړګرځېدلې ده، دکورنی دتعریف پرمبنی مېرمن او مېړه دکونی اصلی لوبغاړي ګڼل کېږي، قرآن مېرمن او مېړه ترمنځ اړیکې له محبت او رحمت څخه ډکې معرفي کوي، لکه څرنګه چې فرمایي:﴿ وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً﴾الروم: ۲۱ اوله نښونه یې یوه داهم ده چې له تاسو نه یې ستاسو جوړه پیداکړه چې آرام ورسره وکړئ او ستاسو په مینځ کې یې مینه او خواخوږي پیداکړې ده. پورتنی آیت په حقیقیت کې دازدواج تعریف او موخې بیانوي، چې دازدواج ټولې نورې موخې دمینې او محبت دډکې فضا په شته والي کې دتحقق وړدي، دکورنی لومړی هسته هم له ازدواج څخه پیلېږي، اما په خواشینی سره دیادونې وړ ده چې زموږ په ګران هېواد افغانستان کې اجباري، له رضایته پرته او قانوني عمر ته درسیدوڅخه مخکې ازدواجونه هیڅکله دازدواج اهداف په پوره توګه دپورتني آیت پرمبنی نشي تمثیلولای، دکورنی داصلي لوبغاړو(مېرمن او مېړه) ترمنځ اړیکې چې په ازدواج سره پیلېږی له شرعي متونو څخه دناقصو تعبیرونو پربنسټ له خپل اصلي او شرعي مسیرڅخه انحراف کړي دی، همدا وجه ده چې دافغان ولس په ټولنیز، سیاسي او اقتصادي نظامونو کې له تاوتریخوالي ډکه فضا دبې پایه جګړو لامل ګرځیدلې دی، اما برعکس دکورنی بنسټ باید په مینې او محبت باندې بناشي، ځکه چې په مینه او محبت سره په کورنی کې ژوند کول، دکورنی دغړو ترمنځ یو ثابت اصل دی، اماکه چیرې دکورنی دغړو یا اصلي لوبغاړو(مېرمن او مېړه) ترمنځ کړکیچ او شخړې رامنځ ته کېږي، بیاهم قرآن دانساني فطرت او طبیعي غریزو لکه: خوښې اوخواشیني قهر اوغصې په پام کې نیولو سره، دپورتنو شخړو حل له پامه نه دی غورځولی، دحل سالمې اومعقولې لیارې یې ورته ښوولې دي، چې په وروستیو پړاوونوکې دیادونې وړدي.

۱- هغه ستونزې او شخړې چې دانسان په فطري غریزو پورې تړاو لري، دغوصې او قهر په لړکې دلفظی مشاجرو او اُچت آواز په توګه راڅرګندېږي، په حقیقت کې دانساني طبیعت یوه برخه ده او دقرآن داجرایي احکامو ترلاندې نه راځي، دداسې شخړو حل ته قرآن یوازې دځینو اخلاقي ارزښتونو په پام کې نیولو سره دپای ټکي ایښی، لکه څرنګه چې فرمایي: ﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾النساء: ۱۹ اوله ښځو سره په ښه توګه ژوند وکړئ. رسول اکرمﷺ هم په دی باندې ټینګارکړي چې له خپلو میرمنو سره غوره چلند وکړئ، لکه څرنګه چې فرمایي: « خیرکم خیرکم لاهله وانا خیرکم لاهلي».[1] غوره ستاسو هغه څوک دی چې له خپل اهل سره ښه رویه ولري او زه له خپل اهل عیال سره په ښه رویه کې له تاسو نه غوره یم.

۲- اما دکورنی ترمنځ هغه ستونزې او شخړې چې دنشوز تړبولې پورې ورسېږي اوپه ترڅ کې یې دښځې یا خاوند مشروع حقونه ضایع شي، قرآن دداسې موضوعاتو دحل لپاره په لومړی پړاو کې دوعظ او نصیحت وړاندیز کړي دي، لکه څرنګه چې فرمایي: ﴿وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ ۖ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا﴾ النساء: ۳۴ اوهغوښځوته نصیحت وکړئ چې دسرغړونې اندیښنه یې درسره وي (که روغې نه شوې) دځملاست په ځای کې یې یوازې پریږدئ

---

۱- سنن الکبری للبیهیقی، ۷توک، ۴۶۸مخ، المکتبه الشامله.

اوويې وهئ، نو که ستاسې مننه يې وکړه دهغوی دبرېرولو لپاره باني مه لټوئ، بې شکه چې الله پاک ډېر اوچته اولوی ذات دی. په نوموړي آيت کې دقرآن کريم له لوري څخه دناشزې ښځې په وړاندې دوعظ وړانديز شوی، لومړي بايد نشوزوپېژندل شي چې نشوزڅه ته وايي؟ نشوز په لغت کې جګ او اوچت ځاي ته وايي، په شرع يا اصطلاح کې فقهاؤ دنشوز لپاره بېلابېل تعريفونه ذکر کړي دي، خوپه ټولو تعريفونوکې ګډه معنی دا بيانوي چې ښځه يا خاوند دمشروع امر مخالفت وکړي، يا دبل په حق کې دمنع شوي امر مرتکب شي، نشوز بلل کېږي، دنشوز له څرګنديدو څخه وروسته په نوموړي قرآني آيت کې دوعظ خبره شوي، پدې معنی چې دناشزې ښځې په وړاندې لومړی بايد له وعظ څخه کارواخستل شي، وعظ او نصيحت هغه معقول او مستدل کلمات دي چې(زړونه نرم کړي، بلنه ومني اوله مخالفت څخه لاس په سرشي) ښځوته بايد دخاوند دمشروع حقونو په هکله يادونه وشي، چې خاوند په ښځه باندي څومره شرعي حقونه لري اوښځه ددې حقونو په وړاندي څومره شرعي مکلفيت لري.

۳- که چېرې دوعظ او نصيحت په مرحله کې هم کورنی شخړې پای ته ونه رسيدلې، دنوموړي آيت پربنسټ په دوهم پړاوکې له وعظ نه وروسته دهجر اولړيوالی خبره راغلې، له هجريا لړيوالی څخه علماؤدري تعبيرونه کړي دي.

کلامي هجريا لړيوالی يعني له خبرو څخه ډډه کول، چې هغه هم درسول اکرمﷺ دوينا مطابق له دريوورځو څخه بايد تيری ونه کړي، لکه څرنګه چې مهرباني کوي: «لَا يَحِلُّ لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ».[1] دمومن لپاره جواز نه لری چې له خپل مسلمان وروړ سره له دريوورځو څخه زيات لړيوالی او متارکه وکړي.

په يوه خونه کې له خوب، ناسته ولاړه، خوراك او څښاك څخه هجريا لړيوالي. [2]

اما غوره داده چې له واړه اسلوبو دهجر اولړيوالی څخه دفشاردوسيلې په توګه کارواخيستل شي ترڅو کورنی ستونزې په سالمه فضاکې حل ته ورسېږي.

۴- په ذکرشويو اسلوبو سره له وعظ اوهجر نه وروسته دناشزې ښځې په وړاندي دخاوند له پلوه دضرب (وهلو) اجازه راغلې، هغه هم يوازې دتاديب لپاره، نه دانتقام اوغچ اخستلوپه خاطر، چې يوازې دخواشينی څرګندوېي وکړي، لکه څرنګه چې رسول اکرمﷺ فرمايې: «ضرباغيرمبرح».[3] غير مبرح پدی معنی چې هډوکي ترينه متضرر نشي، پرېټوکو اثر پرېنږدي، خو سره لدې بياهم دضرب په هکله ډېرداسې احاديث موجود دي چې غوره يې نه بولي اوترې مخنوی کوي، حضرت عايشهؓ له رسول اکرمﷺ څخه حکايت کوي: «ماضرب رسولﷺ خا دما له ولا امراة ولاضرب بيده شيئا».[4] رسول اکرمﷺ هيڅ کله خپل خادم اوښځه نه دي وهلي او په لاس يې هيڅ څوک ندي تهديد کړي. امام شافعیؒ وايي: «والضرب مباح وترکه افضل».[5] وهل مباح دی اما ترک يې غوره دی. البته دنشوزله ثبوت څخه وروسته، که چېرې دناشزې ښځې په وړاندې نوموړي قرآني اسلوب په پام کې ونيول شي، ضرب کاملاً منتفی دی، ځکه چې په سلګونو مخالفتونه دوعظ او هجر په مرحلو کې پای ته رسېږي، همدارازکوم تعريف او مخنونکي تأييدات چې په اسلامي شريعت کې دضرب په هکله موجود دي ضرب کاملاً منتفي بولي.

۵- که چېرې دبدني تهديد په مرحله کې هم کورنی شخړو پای ونه موند، په څلوم پړاو کې قرآن دمينځګړو په توګه دحکمينو دټاکلو وړانديز کوي، چې دښځې او خاوند دکورنيو له لوري څخه دوه کسان دېښې شوې ستونزې دعادلانه حل لپاره وټاکل شي او دې کورني کړکيچ ته دپای ټکی کېږدي، لکه څرنګه چې قرآن فرمايي: ﴿ وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا

---

١ - أبوالحسن مسلم بن الحجاج القشيري النيسابوري، صحيح مسلم، الموسوعة العربية العالمية، مصدر الكتاب: موقع وزارة الأوقاف المصرية، المكتبة الشاملة، باب تحريم هجر فوق ثلاثته ايام، دحديث شمېره (6699).

٢ - دکتورعبدالکريم زيدان، المفصل فی احکام المرءة وبيت المسلم، موسسة رسالة، بيروت، دوهم چاپ، ۱۹۹۴ کال، ۷ ټوک.

٣ - صحيح المسلم، کتاب الحج، باب حجة النبی، دحديث شمېره (۲۱۳۷).

٤ - أبوعبد الله محمد بن يزيد ابن ماجه، القزويني، سنن ابن ماجه، الموسوعة العربية العالمية، مصدر الكتاب: موقع وزارة الأوقاف المصرية، المكتبة الشاملة، كتاب النكاح، باب ضرب النساء، دحديث شمېره (۱۹۷۴).

٥ - المفصل فی احکام المرءة وبيت المسلم، ۷ ټوک، (۳۱۶) مخ.

إِصۡلَٰحٗا يُوَفِّقِ ٱللَّهُ بَيۡنَهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرٗا﴾ النساء: ٣٥ اوکه تاسې دمېړه او ښځې له مخالفت او جلاوالي څخه ویرېدی نو دمېړه دکورنۍ یو غړي او دښځې دکورنۍ یو غړي دمنځګړي په توګه وټاکۍ نو که مېړه او ښځه یا منځګړي دروغې غوښتونکې وي الله دهغوی په منځ کې روغه او مو افقه راوړي، بې شکه الله ښه پوه او په هرڅه خبر دی.

۶- په وروستي پړاو کې که چېرې دحکمینو منځګړیتوب مثمرو اقع نه شو، قرآن دتاوتریخوالي پرځای دوروستي حل لپاره طلاق ته ترجیح ورکوي او دآزادي پلوي نظر په ساتلو سره هریو له ښځې او خاوند څخه په خپل ژوند کې خپلواک پرېږدي، لکه څرنګه چې فرمایې: ﴿أَوۡ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٖ﴾ البقرة: ٢٣١ او یایې په غوره توګه خوشي کړئ.

**پایله**:

دپایلې په توګه دیادنې وړده چې قرآن د کورنیو شخړو د حل لپاره څرګنده د حل لیارې غوره کړي دي او هیڅکله په کورني نظام کې د تاوتریخوالي پلوي نه کوي، بلکې د تاوتریخوالي پرځای بد ترین حلال (طلاق) ته ترجیح ورکوي، نو له دې کبله د اولادونو دېرښت هم باید په کورني کې دتاوتریخوالی لامل ونه ګرځي، او هیڅ لامل باید د کورنۍ آرامتیا له منځه یونسي، څکه قرآن کریم په زغرده سره فرمایې چې د کورنۍ لومړی بنسټ باید په مینې سره بناشي او وروسته ټول ژوند باید په نیکمرغۍ سره پیل او پای ته ورسیږي، لکه څرنګه چې فرمایې: ﴿فَأَمۡسِكُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٖ﴾ البقرة: ٢٣١ په غوره توګه یې وساتۍ او یایې په غوه توګه خوشي کړئ.